# ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل چې: د الله جل جلاله په نېز کومه ګناه لويه ده؟ هغه وفرمايل: «دا چې ته د الله سره شريک ونيسي حال دا چې ته يې پيدا کړی يې

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل چې: د الله جل جلاله په نېز کومه ګناه لويه ده؟ هغه وفرمايل: «دا چې ته د الله سره شريک ونيسي حال دا چې ته يې پيدا کړی يې» ما وويل: دا خو لويه ګناه ده، ما وفرمايل: بيا کومه؟ هغه وفرمايل: " او دا چې خپل اولاد لدې وېرې ووژنې چې تاسره به روزي وخوري». ما وويل: بيا کومه؟ هغه وفرمايل: «دا چې د خپل ګاونډي له ښځې سره زنا وکړې».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د سترو ګناهونو په اړه پوښتنه وشوه، نو وېې فرمايل: په دواړو کې تر ټولو لويه ګناه شرک دی، چې له الله جل جلاله سره په الوهيت، ربوبيت، د هغه په نومونو او صفتونو کې يو څوک د هغه په څېر او يا يې په مثل وګڼې، او دا ګناه له توبې پرته الله تعالى نه بخښي، او که چېرته يې تر سره کوونکی پرې مړ شو نو په اور کې به تل پاتې وي. بيا دا چې يو سړی خپل اولاد لدې وېرې ووژني چې خوراک به ورسره وکړي، او د نفس وژل حرام دي، خو ګناه يې هغه وخت لوييږي، کله چې وژل شوی د وژونکي خپلوان وي، همدا رنګه يې ګناه هغه مهال ډېره لوييږي کله چې قاتل لدې وېرې قتل وکړي چې هغه به ورسره په د الله جل جلاله په روز کې شريک شي. بيا دا چې يو سړی د خپل ګاونډي له ميرمنې سره زنا وکړي، او هڅه يې دا وي چې د خپل ګاونډي ميرمن دوکه کړي ترڅو ورسره زنا وکړي او د ځان تابع يې کړي، او زنا حرامه ده، خو هغه مهال يې ګناه ډېره لوييږي کله چې هغه زنا شوې ښځه د ګاونډي ميرمن وي، حال دا چې د ګاونډي په اړه شريعت ټينګار کړې ده چې بايد احسان، نېکي او ښه ملګرتيا ورسره وشي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5359

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee